سپېځلي کردارونه

# "د مېنې عبدالطیف افندي
# او د هغۀ خدائي خدمتګار ملګري"

سکندر حیات سکندر

مړۀ هغه چې نۀ ئې نوم نۀ ئې نشان وي
تل ترلته په ښۀ نوم پائي ښاغلي

تاریخ ګواه دے چې په پښتنو کله هم چا په زور زبردستۍ د حکومت کولو کوشش کړے دے نو هغه ناکامه شوي دي. پښتانۀ په زور هیڅ نۀ مني او چې چا ورسره څۀ زیاتے کړے دے او په زور ئې خپل غلام جوړولو کوشش کړے دے نو په دوي کښې داسې خلق پیدا شوي دي چې په هغوي تاریخ فخر کوي.

باچاخان چې د انګرېزانو خلاف تحریک شروع کړو نو پښتانۀ ورسره ځنګ په ځنګ ودرېدل. د باچاخان په دغه ملګرو کښې د ملاکنډ مېنې علاقې عبدالطیف افندي، ملک حبیب ګل، الف خان، عزت خان، الله داد د سخاکوټ او د درګۍ راحت خان بابا او امیرالله خان بابا شامل وو.

افندي صېب غریب سړے ؤ. په کال ۱۹۱۶ء کښې د ترکو په پوځ کښې سپه سالار بهرتي شو. په ترکۍ ژبه کښې سپه سالار ته "افندي" وائي. دا وجه وه چې کله کلي ته راغلو نو په افندي مشهور شو.

افندي صیب چې مېنې ته راغلے نو د کلي ځنو خلقو ورسره مرسته کوله خو ډېره مرسته به ورسره د مېنې ملک حبیب ګل بابا کوله.

ملک حبیب ګل بابا د افندي صېب ډېر نزدې ملګرے ؤ. زیات وخت به ئې د حبیب ګل بابا سره د هغۀ په حجره کښې تېروو. دے په قوم عثماني خېل ؤ. د افندي صېب سره ئې هر قسمه جاني او مالي امداد کړے دے. په یوه سخته کښې هم ترې نه نۀ دے وروسته شوے.

افندي صېب او ملک حبیب ګل بابا په خپل کلي کښې د خلکو خدمت شروع کړو. په دغه ورځو کښې دوي د سخاکوټ د راحت خان بابا او د درګۍ امیر الله خان سره ملاقات وشو نو هغوي ورته د باچاخان پته ورکړه چې تاسو د هغۀ سره هم میلاؤ شئ ځکه چې هغه هم د پښتنو د پوهې او د انګرېزانو خلاف تحریک شروع کړے دے. دوي د باچاخان سره میلاؤ شول او ورته ئې ووې چې مونږ د یو ګاډي سوارۀ یو. زمونږ مقصد یو دے او په تحریک کښې ورسره شامل شول، کلي ته چې واپس راغلل نو د حکومت کسان ورپسې شول د کلي ځینو خلقو به پرې ډائرۍ کولې او زیات به نظر بند وو.

چې چرته به تلل نو لیوي والا به ترې لیکل اخستل او چې داسې به لاړل نو د خلقو نه به ئې تپوسونه کول چې دوي چرته تلي دي. په دوي دا پابندي د بوټو د دور پورې جاري وه.

د افندي صېب سره يو څو ګډې او سپي وو. سپي ورسره په دې وجه وو چې دۀ به د ځناورو ډېر زيات خيال ساتلو. روټۍ او صفا اوبه به ئې ورکولې. په دې دوران کښې د دوي سره د کلي بعضې نور کسان هم شامل شول.

د مېنې حميدګل وائي چې يوه ورځ زۀ د کوټ تاڼې ته د څۀ کار دپاره لاړم نو هلته په تاڼه کښې د عبدالطيف افندي صېب، ملک حبيب ګل بابا، نيازګل بابا، عزت خان، داد خان برهـ، غلام حبيب کاکا، خان باز، الله داد، جرنېل عاسم خان، سيداحمد، عبدول او د امين محمد نومونه ليکلي شوي وو چې دا د باچاخان بابا ملګري دي او د حکومت دپاره ډېر خطرناک کسان دي.

لکه چې باچاخان او نورو ملګرو په ۱۹۲۱ء کښې د "انجمن اصلاح افاغنه" بنياد کېښودو نو په دغه بنيادي کسانو کښې د سم رانيزۍ د مېنې کلي عبدالطيف افندي هم شامل ؤ. د دوي د کوششونو په نتيجه کښې په مېنه کښې هم يوه مدرسه پرانستلې شوه. دا مدرسه اول د مېنې په برجومات کښې شروع شوه خو د کلي هغه مليانو چې د حکومت ملګري وو. دا شعرونه وئيل:

سبق د مدرسې وائي
دپاره د پيسې وائي
جنت کښې به ئې ځائے نۀ وي
په دوزخ کښې به غوپې وهي

او دوي د بر جومات نه وويستې شول چې دا اولس ځائے دے. دلته به سبق نۀ بنئي. دوي د هغه ځائے نه مدرسه لرې کړه او افندي صېب په خپله ذاتي دېره کښې هغه مدرسه پرانستله. دا مدرسه چې دوباره شروع شوه نو د کلي جرګې افندي صېب ته ووئيل چې مونږ له به پکښې حصه راکوئ يعنې پېسې به راکوئ. هغه ورته جواب ورکړو چې دا پيسې خو زۀ ستاسو په بچو خرچ کووم. د دې نه يوه روپۍ هم زۀ چاله نۀ شم ورکولې. دغې جرګې په افندي صېب شکايت وکړو او پي اې (پوليټيکل ايجنټ) ته ئې ووئيل چې دا مدرسه دې بنده کړې شي.

د هغې وخت انګرېز پي اې په هري چند (ښنګله) کښې جرګه وغوښتله او هلته ئې افندي صېب ته ووئيل چې ما ستا مدرسه ختمه کړه. افندي صېب ورته پاڅېدو او ورته ئې ووې چې "اې کافره! تۀ زما مدرسه څنګه ختموې، دا تۀ نۀ شې ختمولئ" د دې خبرې په اورېدو انګرېز پولټيکل ايجنټ جرګې طرف ته اشاره وکړه چې زۀ ئې نۀ ختموم خو دا جرګه راغلې ده او دوي وائي چې دا مدرسه دې بنده شي.

د دې مدرسې نوم" مدرسه اسلاميه افنديه" ؤ. دا مدرسه په کال ۱۹۳۰ کښې بنده کړې شوه.

د راحت خان بابا ورور وفات شوے ؤ نو افندي صېب او ملک حبيب ګل ئې جنازې له تللي وو چې واپس راتلل نو راحت خان ورته ووې چې ډوډۍ به دلته وخورئ بيا به ځئ خو افندي صېب ورته ووې چې نۀ مړه مونږ خو وږي نۀ يو. دومره طاقت خو راپکښې شته چې کلي ته به ځان ورسوو.

افندي صېب د حبيب ګل نه هډو تپوس ونۀ کړو چې تۀ ډوډۍ خورې او کۀ نۀ کله چې دوي روان شول او ګهړي عثماني خېلو ته راورسېدل نو افندي صېب حبيب ګل ته وائي چې هلکه دلته خو ستا عزيزان (عثماني خېل) دي راځه چې ډوډۍ ورسره وخورو. خو حبيب ګل ورته ووې چې هلته دې زما نه تپوس کړے ؤ اوس دلته هم نۀ خورو. دواړه په خندا شو او بيا هريانګوټ ته راورسېدل.

افندي صېب ورته بيا وائي چې دلته به د خدائي خدمتګار نذير سره ډوډۍ وخورو خو حبيب ګل هلته هم ډوډۍ خوړلو ته تيار نۀ شو او دوي دغه شان کلي ته راورسېدل. په کلي کښې ورته حبيب ګل ووئيل چې ځوانه څومره طاقت دې پاتې دے او هلته ئې د حبيب ګل په حجره کښې ډوډۍ وخوړه.

د ۱۹۳۰ په سول نافرمانۍ تحريک کښې عبدالطيف افندي صېب، راحت خان بابا سره د نورو ملګرو ګرفتار کړے شو. کله چې د ګاندي ارون معاهدې لاندې د پښتونخوا نورو خدائي خدمتګارانو ته رهائي ميلاؤ شوه نو افندي صېب، راحت خان بابا، باور خان، الف شاه، منجور او اصلت خان د ضمانت ورکولو نه انکار وکړو.

په دغه وجه اخبارونو هم د دوي د رهائۍ دپاره اواز اوچت کړو. ۱۶ اپريل ۱۹۳۴ء اخبار "ترجمان سرحد" د دوي په حقله ليکي چې" عبدالطيف افندي او راحت خان تر اوسه پورې قيد دي. حالانکه زيات تر قيديان رها کړے شول او دا چې د سول نافرمانۍ تحريک هم ختم شوے دے. په دې وجه د ګورنر او پي اې نه اميد لرلے شي چې د دوي په رهائۍ غور وکړي.

۱۸ مې ۱۹۳۴ء د لاهور مشهور اخبار" ملاپ" د دوي په حقله څۀ داسې ليکلي دي:

" د هري پور جېل نه د علاقه ملاکنډ عبدالطيف افندي صېب او راحت خان بابا د ملاکنډ جېل ته منتقل کړے شول. افندي صېب د ۱۹۳۰ء په تحريک کښې ګرفتار شوے ؤ خو ګاندي ارون معاهدې لاندې دوي ته رهائي ميلاؤ نۀ شوه. داسې وئيلې کېږي چې په ايف سي آر د دوي سزاګانې زياتېدے شي. کۀ چرې په دې واقعې عمل درامد ونۀ کړے شي نو دا به د انګرېز حکومت دپاره غټه بدنامي وي". بل طرف ته صوبائي اسمبلي په کال ۱۹۳٤ء کښې په يو اجلاس کښې په سوال نمبر ۲۳۷ د عبدالطيف افندي د رهائۍ دپاره اواز اوچت کړو. په دې وجه انګرېز حکومت مجبور شو او افندي سره د نورو ملګرو بغېر د ضمانت نه په جولائي ۱۹۳٤ء کښې رها کړے شو.

يوه ورځ باچاخان مېنې ته راغلے ؤ، په حجره کښې ورته د کلي ټول خلق راغونډ شوي وو او د هغه خبرې ئې اورېدې چې د ډوډۍ وخت شو نو هر يوس ړي د کور نه يو يو پوخ کړے چرګ او ډوډۍ راوړل. باچاخان چې دا هر څۀ اوليدل نو هغوي ته ئې ووئيل چې دا هر څۀ واپس کړئ او ماله صرف شوملې او د وربشو ډوډۍ راوړئ. زۀ خو د دې هر څۀ خلاف يم ځکه چې پېرنګے کله د ملک نه ځي نو دلته به د هر څه قحط وي. دا هر څۀ د هغې وخت دپاره سمبال کړئ او دغه شان ئې د شوملو سره د وربشو ډوډۍ وخوړه.

افندي صېب چې د ترکو ته واپس راغے نو د دۀ سره يو صندوق ؤ، سحر وختي به ئې دغه صندوق خلاص کړو او دې ته به ئې ژړل. ځينې خلق وائي چې دۀ په ترکو کښې واده کړے ؤ او دوه زامن ئې وو، په دې صندوق کښې د هغوي تصويرونه وو.

يوه ورځ د مېنې خدائي خدمتګار عزت خان بابا خپلې جامې په درې ښاخۍ کښې اخستې وې او د کلي نه بهر مزدورۍ له تلو، پوليسو ته مخبري وشوه چې دغه شان يو سړے د تخريب کارۍ دپاره روان دے، پوليس ورپسې شول چې پوليسو لاندې

کړو او ویې درولو نو اول ئې ورته ښکته او پورته وکتل او حېران شول چې دا غریب سړے به څۀ تخریب کاري وکړي او چې پنډوکے ئې ورله وکتو نو په هغې کښې ورسره زړې جامې وې.

دغه شان د لوونو په ورځو کښې عزت خان بابا په خپلو پټو کښې د وربشو لؤ کولو نو یو پولیس وریسې راغے اوورته ئې ووې چې تۀ تانې ته جمعدار صېب غوښتې ئې. تۀ چارسدې ته تلے وې او هلته دې په جلسه کښې د حکومت خلاف خبرې کړې دي. دے ئې ګرفتار کړو او ملاکنډ جېل ته ئې بوتلو. په جېل کښې چې دۀ ته هتکړۍ اچولې شوې نو هتکړۍ د دۀپه لاسو پوره نۀ وې د دۀ لاسو ته نۀ ورتلې هغه سپاهي ترې تپوس وکړو چې کاکا تۀ میا ئې کۀ ملا ، دۀ ورته جواب ورکړو چې زۀ نۀ میا یم او نۀ ملا یم، زۀ عام سړے یم. په ملاکنډ جېل کښې ئې په قیدیانو یو باغ اوبۀ کولو دغه باغ له به عزت خان بابا په بانګۍ اوبه راوړلې.

عزت خان بابا په کال ۱۹۸۰ کښې وفات شو.

الله داد هم د مینې یو خدائي خدمتګار او د افندي صېب ملګرے ؤ. اول په زور منډۍ کښې اوسېدو، دے هم ډېر زیات جېلونو ته تلے ؤ، دۀ به په هر اختر کښې سرې جامې واچولې او د مېنې په کوز جومات کښې به یې خلقو ته تقریر کولو، یو ځل په هري چند کښې د باچاخان جلسه وه د هر ځائے نه ورله خلق راغلي وو د مېنې خلق هم په جلسه کښې د شرکت دپاره یوه ورځ مخکښې لاړل. ځکه چې په هغه وخت کښې ګاډي نۀ وو نو دوي د الله داد سره چې په هغه وخت کښې په زور منډۍ کښې اوسېدو، شپه وکړه. خلق ډېر وو او کټونه لږ وو نو په انډېرو(پوزکو) ئې شپه وکړه. د الله داد ورارۀ خان داد وائي چې زۀ په هغه وخت کښې وړوکے وم خو د مېنې خدائي خدمتګارانو سره یو پنځه ګزه غټ نشان ؤ. سحر وختي چې دوي روان شول نومونږ ئې ځان سره نۀ پرېښودو او راته ئې ووئیل چې هلته هر قسمه حالات پېداکېدے شي خو مونږ ورسره لاړو.

دې وائي چې هغې جلسې له باچاخان په څۀ وجه رانغے خو ډاکټر خانصاحب ئې راولېږو، هغه چې تقریر شروع کړو نو د ډوګرا کسان راغلل، مشینان ورسره وو، خلق ویرېدل، ډاکټر خانصاحب اعلان وکړو چې اول به تاسو هیڅ نۀ وایئ چې هغوي جګړه شروع کړي بیا به ورسره ګورو. د دې اعلان نه پس د ډوګرا کسان واپس لاړل او خدائے پاک خېر کړو.

د افندي صېب په سر کښې یوه نخښه (چاپ) ؤ.یوه ورځ ترې مهابت خان تپوس وکړو چې بابا دا چاپ د څۀ دے هغه ورته ووئیل چې کله زۀ په جېل کښې وم نو په جېل کښې ئې لېوني راپرېښودل، یو لېوني ګټه اوچته کړه او زما سر ئې پرې وویشتو،دا د هغې نخښه ده.

افندي صېب ورته دا هم ووئیل چې په جېل کښې ماله زهر راکړے شوي دي خو خدائے پاک په ما هیضه او اولټۍ راوستل نو بچ شوم.

افندي صېب په مېنې کښې وادۀ کړے ؤ، د ښځې نوم ئې راپو ابۍ وه، راپو ابۍ هم د افندي صېب په شان ډېره تکړه ښځه وه.

افندي صېب د مېنې په بر جومات کښې یو کوهے شروع کړو چې د دې کوهي اوبۀ به خلق استعمالوي او دعا به کوي. د دې غرض دپاره هغه

خپلې ګډې خرڅې کړې او پېسې ئې په کوهي باندې ولګولې کله چې افندي صېب وفات شو نو دا کوهے نيمګړے پاتې شو.

د افندي صېب په شان د هغهٔ ښځه راپو ابۍ هم خدائي خدمتګاره وه. د خپل خاوند د مشن پوره کولو دپاره ئې چندې شروع کړې، د چندې دپاره کراچۍ ته رسېدلې وه، د هلته نه به ئې د چندو پېسې رالېږلې، د چندو راټولولو په دوران کښې يوه ورځ په کراچۍ کښې ګاډي ووهله او په حق ورسېدله. د راپوابۍ د قبر پته تر نن وخته پورې هېڅا ته نشته.

خدائے پاک د چا کوشش او محنت نه ضائع کوي، هغه کوهے خدائے پاک کامياب کړو او تر اوسه پورې د کلي خلق د دې کوهي اوبهٔ استعمالوي خو اوس متاسفانه په دغه تاريخي کوهي مختلفو ناظمانو پېسې راويستې دي او د ايم پي اې بورډ پرې لګېدلے دے چې دا مونږ جوړ کړے دے.

افندي صېب په کال ۱۹۳۷ء د اتوار په ورځ په خپل کلي مېنه کښې ماسپښين په حق ورسېدو او د مېنې په بوقانو هديره کښې خاورو ته وسپارلے شو.

ملک صېب ګل بابا په کال ۱۹۸۶ کښې په حق ورسېدو ،د دهٔ قبر هم د مېنې په بوقانو هديره کښې دے. خدائے پاک دې ټولو ته جنت الفردوس نصيب کړي. امين

* * *

## د ډاکټر درويش يوسفزي د شعري ټولګې "واورين" د مخکتنې دستوره

رپورټ: اکبر هوتي ايډوکېټ

د ادبي دوستانو مرکه مردان له خوا د ډاکټر درويش يوسفزي د شعري ټولګې "واورين" د مخکتنې دستوره په مردان پرېس کلب کښې د پښتونخوا د ډاکټر اسرار په صدارت کښې وشوه. د کوربه چارې ليکونکي (اکبر هوتي) ترسره کړې. د دستورې شروع مصباح الله مصباح د خدائے پاک د کلام نه وکړه. د ادبي دوستانو مرکه مردان چئيرمېن پروفېسر زبېر حسرت مېلمنو ته هرکلے ووې او ډاکټر درويش يوسفزي ته ئې د شعر په ژبه پېرزونې وړاندې کړې. ښاغلي ساحل يوسفزي او مهراند ښ د نثري ليک په شکل کښې د ډاکټر درويش د شاعرۍ او فن په حقله خپلې څرګندونې وړاندې کړې. په دې موقع صدر محفل ډاکټر اسرار او محمد اقبال اقبال ووې چې د ډاکټر درويش يوسفزي شاعري پښتون اولس ته دقام د آزادۍ او ابادۍ يو ښهٔ پېغام ورکوي. دوي په شاعرۍ کښې کهٔ يو خوا د خپل وطن د ټوټې ټوټې وجود ژاړي نوبل خوا د دهٔ په شاعرۍ کښې د قامي آزادۍ د ارمانونو غزونې هم شته. په دې موقع صاحب کتاب ډاکټر درويش هم وينا وکړه او د ادبي دوستانو مرکه مردان ئې شکريه ادا کړه او هم دې سره دا دستوره سرته ورسېده. په دې دستوره د هرې طبقې سره تعلق لرونکو په ګڼ شمېر کښې خلقو ګډون درلود چې پکښې عبدالواحد قلندر، فېضل الوهاب فېض د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ سکرټري محمد اعجاز خان هوتي ايډوکېټ، محمد زبېر خان، رضوان شاه رضوان، نهار اعوان، شعيب صادق، امتياز احمد عابد، د مردان ډاټ کام ارګنائزر سېد ياسر علي باچا آرکينالوجېسټ عثمان مردانوي، سيد افضل شاه، غمګين مايارے، نذير يوسفزے، وقاص بټ اېډوکېټ، خليل بټ، حاجي احمدعابد لوهار او وارث خان نایاب او ډېر ګڼ شمېر شاعران اديبان.